# بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

| کال | ګڼه | ټوک |
| --- | --- | --- |
| ۱۴۰۲ | لومړی | دوهم |

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دوهم ټوک – لومړی ګڼه**

**کال – ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصری

**کتنپلاوی:**

⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال

⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر

⇐ پوهنمل عبدالولي هجران

⇐ پوهنمل حنیف الله باوري

⇐ پوهنیار عبدالولی همت

⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی

⇐ خان محمد وفا

⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری

⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش

⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی

⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي

⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد

⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت

⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري

⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنگي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۲

پته: بُست پوهنتون، لښکرگاه،هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په گانه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډگر کې د گټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارگان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څیړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راگیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانکړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څیړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې گرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څیړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډگر کې چې وي، یو خپرنیز ارگان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څیړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمې مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنگه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په گاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینگ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنگین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډیر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د دوهم ټوک، لومړی ګڼه خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي منته کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د ننني نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څیړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څیړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅیړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅیړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټوړو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څیړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څیړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څیړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څیړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه درونډ خو ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چې ددی علمي او څیړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څیړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروی او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څیړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

## لړلیک

**د صفحی شمیره** | **د مقالی عنوان**


**د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کي د Sub Mucosal Resection واقعاتو څېړنه**

ډاکټر زلمی عالمي، ډاکټر ذبیح الله انوري ، ډاکټر سید بسم الله سجادي ------------------ ۱

**د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کي په معدوي زخمونوکي**

**د هضمي جهاز د پورتنی برخي د وینه بهیدني واقعاتو مطالعه** ---------------------------------------- ۲

ډاکټر نصرالله نصرت، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي

**په نوزاد ولسوالی کي د انارو د تولید لګښت، ناخالصي ګټي،**

**خالصي ګټي او مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل** ----------------------------------------------- ۳

پوهنیار زمریالی تنی، پوهندوی ډاکټر علي احمد، حمید الله هدایت

**د جوارو پر حاصل او د حاصل پر مرستندویه برخو باندي د پوټاشیم اغیزي**

پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی --------------------------------- ۴

**د ټولني په سوله او ثبات کي د کرني رول**

پوهنمل محمد یار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی -------------------------------------------------------- ۶

**RAINFALL-RUNOFF MODELING OF ARGHANDAB RIVER BASIN IN AFGHANISTAN**

ABDUL WALI HEJRAN AND ESMATULLAH SANGIN -------------------------------------------------------- ۷

**د DYNAMIC ROUTING پروټوکول عملیاتو ته کتنه** -------------------------------------------------------

محمد ادریس وزیری، خان محمد وفا، جماالدین جمال ۸

**د IP ADDRESS په اساس د سیستم د څارني پلي کیدنه** ------------------------------------------------

خان محمد وفا، جماالدین جمال، سید محمد عادل ۹

**د INTERNET PROTOCOL ADDRESS پیژندنه او د هغه پلي کیدنه** ----------------------------------

خان محمد وفا، جماالدین جمال،سید محمد عادل ۱۰

**پر کاروربار باندي د معلوماتي تیکنالوژۍ اغیزي** ----------------------------------

ارسلان وطندار ، پوهندوی دوکتور علی احمد، محیب الله اميني ۱۱

# په نوزاد ولسوالۍ کې د انارو د تولید لګښت، ناخالصې ګټې، خالصې ګټې او مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل

پوهنیار زمریالی تنی [1*]، پوهندوی ډاکټر علي احمد [2]، حمید الله هدایت [3]

[1] د نباتاتو اصلاح او تکثیر څانګه، نباتي علوم پوهنځی، انستو، کندهار

[2] د کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنی پوهنځی، هلمند پوهنتون

[3] د اداره او تشبثات څانګې محصل، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس: z.tani@anastu.edu.af

## لنډیز

دا څېړنه په نوزاد ولسوالۍ کې د انارو د تولید لګښت، ناخالصې ګټې، خالصې ګټې او مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل تر سرلیک لاندې په ۱۴۰۱ لمریز کال کې ترسره سوې ده. د څېړنې عمده موخې د انارو د تولید لګښت معلومول، مجموعي او خالص عواید تحلیل کول، د انارو د مارکیټینګ چینلونه موندل او د انارو په تولید کې خنډونه او حل لارې وړاندې کول. د څېړنې لپاره مو هلمند ولایت نوزاد ولسوالۍ په قصدي ډول وټاکل. په دې ولسوالۍ کې (بر نوزاد، دوسنګ، میانجوی، سیرین باز، کلیسیا او خاوی) کلي د څېړنې لپاره په تصادفي ډول وټاکل او همدا راز په دغو کلیو کې (۶۰) کسان (ځواب ورکوونکي) په تصادفي ډول انتخاب کړل تر څو له هغوی څخه د دوی د ځمکو اړوند لکه لګښت، حاصل، عواید، ستونزې او داسې نورو په اړه معلومات را ټول او تجزیه کړو. د دوی کروندې مو په دریو کټګوریو ووېشلې (کوچنی ۱-۳ جریبه )، (میانه ۳- ۵جریبه) او (لوې د ۵ څخه لوړ جریبه) او د هرې کټګورۍ څخه مو (۲۰) کسان انتخاب کړل. د څېړنې په نتیجه کې مو دا وموندل چې د کوچنی، میانه او لویو کروندو د تولید لګښت په ترتیب سره (۹۷۷۲۲)، (۱۶۲۴۶۸) او (۴۴۷۰۶۵) افغانۍ په اوسط ډول دی. د کوچنی، میانه او لویو کروندو ناخالصه ګټه په ترتیب سره (۲۶۱۰۷۵)، (۵۰۸۴۰۰) او (۹۱۸۴۰۰) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلې ده. د کوچنی، میانه او لویو کروندو خالصه ګټه په ترتیب سره (۱۶۳۳۵۳)، (۳۴۵۹۳۲) او (۴۷۱۳۳۵) افغانۍ په اوسط ډول دي. او د څېړنې په ساحه کې مو درې د مارکیټینګ چینلونه و موندل. (تولید کوونکي، عمده فروش، مصرف کوونکي)، (تولید کوونکي، عمده فروش، پرچون فروش، مصرف کوونکي) او (تولید کوونکي، کمېشن کار، عمده فروش، پرچون فروش، مصرف کوونکي).

**کلیدي کلمې:** انار، تولید، لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه، د مارکیټینګ چینلونه او ستونزې.

## سریزه

د دې وني اصلي ټاټوبی له ایران څخه د هند په شمالي برخه کي تر همالیا پوري دی او له پخوانیو وختو را په دې خوا د مدیترانې په ټوله آسیا ، افریقا او اروپا کي کرل کیږي. دا میوه په ډېري لارو کارول کېده لکه څنګه چي نن ورځ د مصر په افسانه او هنر کي ښودل سوې، د انجیل په زاړه عهد نامې او د بابلیون تالمود کي ستاینه سوې، او دا د تندي ماتولو جوس لپاره د صحرا کاروانونو لخوا وړل کېده. د لومړی پیړی په شاوخوا کي له ایران څخه مرکزي او سویلي هند ته د انارو کرکیله وغځېده او په ۱۴۱۶م کال کي په اندونیزیا کي د انارو د وني د ودې راپور ورکړل سو. دا په پراخه کچه په ټول هند او د سویل ختیځ آسیا، مالیا، ختیځ او استوایي افریقا په وچو برخو کي کرل سوي. تر ټولو مهم وده کوونکي هیوادونه (سیمي )مصر، چین، افغانستان، پاکستان، بنګله دیش، ایران، عراق، هند، برما او سعودي عربستان دي.

د انارو ونه د امریکا په کالیفورنیا ایالت کي په ۱۷۶۹م کال کي د هسپانوي اوسیدونکو لخوا معرفي سوه، د امریکا په کالیفورنیا ایالت کي د انارو کښت په تولیر، فریسنو او کیرن هیوادونو کي متمرکز دی، په امپیریل او د سیند غاړي هیوادونو کي یې کوچني فارمونه وه. په ۱۹۲۰م لسیزه کي په دې سیمو کي په 2,000 جریبه (810 هکتاره) ځمکه کي د انارو وني شتون درلود. تولید په ۱۹۳۰م کال کي د تقاضا د کمښت له امله کم سو( .(Morton et al., 1987

په یوه علمي څېړنه کي دا منل سوې چي په هسپانیه کي د غرناطي په لرغوني ښار کي چاودلي یعني خلاص انار (د لا ګرانادا) پخواني غرناطې نښان دی. غرناطه یو وخت په هسپانیه کي د مسلمانانو اخیرنی نظامي کلا وه او همدارنګه په هسپانوي ژبه کي انار ته (ګرانادا) وایي، د دغه ښار اوسنی نوم هم ګرانادا دی، ځکه چي د دغه ښار شا او خوا اکثره باغونه د انارو دي او انار د دغي سیمي ملي میوه ګڼل کیږي.

په( ۱۴۹۲)م کال کي کله چي پادشاه فردیناند او شاهزادګی ایزابیلا غرناطه ونیوله دوی د خپلي لاس ته راوړني په ویاړ انار ته دومره اهمیت او ارزښت ورکړ چي ډېر دولتي او عسکري نښانونه یی د انار په شکل جوړ کړل.

د منځنۍ اسیا په هیوادونو کي یو رقم خوراک چي ورته آش انار ویل کیږي ډېر خوندور خوراک دی، دغه خوراک چي د سوپ په ډول جوړ سوی وي ډېره برخه یې انار او ورسره عدس، د غوښو وړې ټوټې او پودینه ورسره ګډه سوې وي ډېره مزه کوي.

په فلسطین کي بیا د انار دانې او اوبه هغو خوړو خوراکونو پر سر د ښایست او لا خوندور کېدو لپاره اچول کیږي چي پنځه ستوري هوټلونو کي له ډوډۍ څخه وروسته د مېلمنو په وړاندي ایښودل کیږي.
په ازربایجان کي بیا د انارو جوس ( اوبه) له کباب او سره کړي ماهي سره یوځای د نر شراب په نامه سره خلک ډېر په خوند خوري.
همدا رنګه د انار هغه اوبه (جوس) چي اسیایي هیوادونو کي یې له پخوا څخه خلګ څیښي، اوس په اروپا او شمالي امریکا کي هم ډېر عام سوي او خلک یې په خوند سره نوش جان کوي، خواړه پوهانو انارو ته د سترو خوړو نوم ورکړی. (Holland et al., 2009).

**په افغانستان کي د انارو تولید:**

له (۲۰۰۹)م کال را په دې خوا، حکومت او نا دولتي مؤسسو په افغانستان کي د انارو د صنعت پر پراختیا خپل تمرکز زیات کړی وو. په (2009) م کال کي د انارو څو سوه زره وني کرل سوي وې، او هیواد نږدې 50,000 مټریک ټنه میوه مختلفو هیوادونو لکه پاکستان او هند ته صادره سوې وه. په همدې کال کي په کابل کي د نږدې شپږ میلیونه پونډه جوس فابریکه جوړه سوه، ترڅو د میوو څخه د سوداګریز پلوه د پام وړ جوس متمرکز کړي. سربېره پردې، افغان حکومت د میوو صادراتو ته وده ورکړه. د امریکا نړیوالي پراختیایي اداري هم مرسته کړې، چي د کندهار د باغدارۍ پروژه یې د ٦.٦ میلیون ډالرو په ارزښت د کروندګرو لپاره په ځانګړې توګه د کوکنارو په پخوانیو ځمکو کي د کرېډیټ د ورکولو په موخه پیل کړه. د افغانستان د مرکزي احصایوي اداري (CSO) لخوا په ۲۰۱۷م کال کي خپاره سوي ارقام ښیي چي په ټولیز ډول په افغانستان کي په ۹۷۲۱ هکتاره ځمکه کي ۹۹۸۷۱ مټریک ټنه انار تولید سوي دي، له دې جملې څخه کندهار په ۴۸۲۵ هکتاره ځمکه کي ۷۲۱۰۰ متریک ټنه انار تولید کړي دي .
خو د پژواک په وینا په ۲۰۱۸م کال کي کندهار یوازي د ۴ میلیونو ډالرو په ارزښت ۱۸ زره مټریک ټنه د ۱۵۰ زره متریک ټنو تولید سوي انار نورو هیوادو ته صادر کړي دي (Daqi,2021 ).

**په افغانستان کي د انارو ډولونه :**

د یوه علمي تحقیق او پلټني له مخي نتیجه په لاس را غلې چي په افغانستان کي دانارو (٤٨) مختلف ډولونه روزل کیږي، چي د ذکرشوي شمېرله جملې څخه (١٢) دوله په ننګرهار(خوږیانو) نهه (٩) ډوله په کندهار (٦) ډوله په هلمند، (٦) ډوله په سمنګان(تاشقرغان) ، (٥) ډوله په تګاب، (٤) ډوله په فراه، (٣) ډوله په هرات او (٣) ډوله د بلخ د هدادي په سیمو کي

روزل کیږي. د انارو ټول ډولونه معمولاً په یو وخت کي پخیږي او د هغوی د پخوالي ترمنځ صرف د (۱۰) ورځو په اندازه توپیر لیدل کیږي. د (٤٨) ډولونو (Varieties) له جملې څخه پنځه ډوله انار په سمنګانو، د بلخ په کاسګي، سور او سپین شکري په کندهار، او ګرمه انار په هلمند کي ژرپخېدونکي ډولونه دي. اوهمدارنګه (۱۷) ډوله یې ناوخته او نور پاتي ډولونه یې په منځني وخت کي پخیږي.

انار د خوند او لذت له مخي په درې (خواږه ، میخوش، اوتروه ) ډوله دي. چي زمونږ د هېواد د (٤٨) ډولونو له جملې څخه (۲۰) ډوله خواږه، (۱۷) ډوله میخوش او پاتي (۱۱) نور ډولونه یې تروه انار دي.

د انارو د (٤٨) ډولونو له جملې څخه (۳۰) ډوله یې سخت زړي، (۱۷) ډوله یې نرم زړي او یو ډول یې بې دانه انار دي، د افغانستان خواږه او بې دانه انار تر نورو ټولو انارو په هیواد کي دننه او هم په نورو هیوادو کي ښه تقاضا او بازار لري. او د کندهار او سمنګانو میخوش انار ښه خرڅلاو لري، مګر تروه انار د هیواد په داخل او هم خارج کي کوم تجارتي ارزښت نه لري ( شېرزاد.،۱۳٦۱) .

**د هلمند د انارو تولید:**

یوه څېړنه د احمد او ملګرو لخوا په ۲۰۱۷ م کال کي د هلمند د ګډي کرني سیستم تر عنوان لاندي ترسره سوې ده چي د هلمند د ټولو ولسوالیو د انارو تولید کچه په هکتار، ټولټال ساحه، د تولید اوسط او ټولټال د انارو تولید په ټن کي ښیي (۱ جدول).

**۱جدول: په هلمند ولایت کي د انارو د تولید کچه ( ۲۰۱۷)**

| شماره | ولسوالي | کرل سوي ساحه ( هکتار) |
|---|---|---|
| ۱ | ناوه بارکزائي | 45 |
| ۲ | ګرمسیر | 80 |
| ۳ | خانشین | 15 |
| ۴ | دیشو | .. |
| ۵ | لښکرګاه | 25 |
| ۶ | نادعلي | 30 |
| ۷ | مارجه | 68 |
| ۸ | نهرسراج | 180 |
| ۹ | سنګین | 1000 |
| ۱۰ | موسي کلا | 50 |
| ۱۱ | کجکي | 20 |
| ۱۲ | نوزاد | 1100 |
| ۱۳ | باغران | .. |
| ۱۴ | واشیر | 50 |
| **ټولټال ساحه (هکتار)** | | **2663** |
| **د تولید اوسط فی هکتار( ټن)** | | **22** |
| **ټولټال تولید ( ټن)** | | **58586** |

**Source: Ahmad et al., 2017**

**د ستونزي بیان:**

د څېړني په نتیجه کي د کروندګرو د بیان څخه دا په ډاګه سوه چي د دوی اساسي ستونزي د انارو په کم حاصل او ډېر لګښت کي د اوبو کموالی د کود او هیوانی سري د کموالي له امله دي. دا د دوی د استعمال او کرکیلي ناسم مدیریت دی، بزګران د عامه پوهاوی د نشتوالي له امله نه سي کولای چي په سم ډول صحي حاصل تر لاسه کړي، د حاصلاتو له راټولولو څخه وروسته کروندګر مجبور کیږي چي خپل حاصلات په کم نرخ او غیري منظم مارکیټ او محلي بازارونو کي وپلوري، څکه نو د منظم مارکیټ نشتوالی یو بله عمده ستونزه ده.

او همدارنکه د نورو آسانیاوو نشتوالی.

**د څېړني اهمیت:**

په هلمند ولایت کي د آنارو ټوله کرل سوې ساحه ټولټال ( 2663 هکتاره) څمکه ده. په څېړني کي یو شمیر کروندګر خپل د فصل د خړوبولو د اوبو د نشتوالي له امله نه سي کولای چي خپل حاصلات په ونو کي پریږدی، همدارنکه د بې کیفیته کیمیاوي درمل چي زیات وخت کروندګر د مشکل سره لاس او ګریوان دي، د کروندګرو سره د ذخیره کولو اسانتیا (ګدامونه) د دوی سره مرسته کوي. دا څکه چي دوی وکولای سي چي خپل حاصلات د یوې مودې لپاره په یخو او سمو ګدامونو کي و ساتل سي چي د بیي د لوړوالي سره سم خپل حاصلات وپلوري، منظم مارکیت هم د هلمند د خلکو یوه مهمه سرچینه ده، ترڅو کروندګر وکولای سي خپل حاصلات په ښه ډول په دغه ولایت کي وپلوري، بله ستونزه یې په هلمند

ولایت کې د انارو د حاصلاتو د انتقال لپاره په ترانسپورت کې مشکلات دي څکه حاصلات ضایع کیږي (زیان) وینې او خرابیږي.

### د څېړنې موخې:

۱: د انارو د تولید د لګښت معلومول.

۲: د انارو د مجموعي او خالصو عوایدو تحلیل کول.

۳: د انارو د مارکیټینګ د چینلونو موندل.

۴: د انارو په تولید او مارګیټنګ کې ځنډونه معلومول او د حل لاري وړاندي کول.

## مواد او کړنلاره

### الف. د څېړنې ځای او وخت

دا څېړنه مو په نوزاد ولسوالی کې د انارو د تولید لګښت، ناخالصې ګټې، خالصې ګټې او د مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل تر سرلیک لاندي په ۱۴۰۱ لمریز کال کې ترسره کړې ده.

### ب. د څېړنې ډیزاین

د څېړنې لپاره مو د هلمند ولایت نوزاد ولسوالي په قصدي ډول وټاکل. په دې ولسوالی کې مو (بر نوزاد، دوسنګ، میانجوی، سیرین باز، کلیسا او خاوی) کلي د څېړنې لپاره په تصادفي ډول وټاکل او همدا راز په دغو کلیو کې (٦٠) کسان (څواب ورکوونکي) په تصادفي ډول انتخاب کړل تر څو له هغوی څخه د دوی د ځمکو اړوند لکه لګښت، حاصل، عواید، ستونزې او داسی نورو په اړه معلومات راټول او تجزیه کړو او د ځواب ورکوونکو د انارو کروندې مو په درو ګټګوریو ووېشلې چې په لاندي (جدول ) کې ښودل سوي دي.

**۲ جدول: د انارو د کروندو کټګوری**

| د کروندې ډول (جریب) | | |
|---|---|---|
| **کوچنۍ کروندې** | میانه کروندې | لوی کروندې |
| ۱ - ۳ | ۳ - ۵ | د ۵ څخه لوړ |

### ج. مواد

په څېړنه کې مو د لومړنیو او دویمي معلوماتو څخه کار اخیستی دی. لومړنې معلومات مو د هلمند ولایت نوزاد ولسوالی د کروندګرو څخه د پوښتنپاڼو او مرکو په مرسته راټول کړي دي او دویمي معلومات مو د ملي او نړیوالو ژورنالو، معتبرو ډاټا بیسو او کتابونو څخه راټول کړي دي.

## نتیجه او مناقشه

### ۱. د انارو د تولید لګښت:

### ۱.۱. د کوچنۍ کروندو د تولید لګښت:

کوچنۍ کروندې چې اندازه یې (۳-۱)جریبه پوري دي، په هلمند ولایت نوزاد ولسوالی کې په اوسط ډول (۹۷۷۲۲) افغانی لګښت ورباندې راغلی دی چې په لاندي (۳ - جدول )کې په ترتیب سره ښودل سوي دي.

**۳- جدول: د کوچنیو کروندو لګښت په (افغانیو)**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د بزګر ونډه | ۳۸۷۳۹ |
| ۲ | ذکات | ۱۳۰۵۳ |
| ۳ | حیواني سره | ۷۹۰۰ |
| ۴ | DAP (تورکود) | ۳٦۵۰ |
| ۵ | UREA(سپین کود) | ۲۹۷۰ |
| ٦ | ابیاري | ۷۳۰۰ |
| ۷ | رفع حاصل | ۵۴۵۰ |
| ۸ | دځمکې اماده کول | ۴۷۵۰ |
| ۹ | روزمزد | ۴۱۵۰ |
| ۱۰ | بسته بندي | ۳۴۷۰ |
| ۱۱ | ټرانسپورت | ۳۴۰۰ |
| ۱۲ | کیمیاوي درمل | ۲۲۵۰ |
| ۱۳ | استهلاک | ٦۴۰ |
| | **مجموعي لګښت** | **۹۷۷۲۲** |

### ۱.۱.۲ د میانه کروندو د تولید لګښت:

میانه کروندې چې اندازه یې د (۵-۳) جریبه ده، په اوسط ډول (۱٦۲۴٦۸) افغانی لګښت وربانديې راغلی دی، چې په لاندې ( ۴ - جدول ) کې په ترتیب سره ښودل سوې دي.

**۴- جدول: د میانه کروندو لګښت په (افغانیو)**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د بزګر ونډه | ٦۸۴۲۲ |
| ۲ | ذکات | ۲۳۱۴۱ |
| ۳ | حیواني سره | ۱۲۱۰۰ |
| ۴ | UREA(سپین کود) | ۹۰۲۰ |
| ۵ | DAP(تورکود) | ۸۷۸۵ |
| ٦ | دځمکې اماده کول | ۸۳۵۰ |
| ۷ | رفع حاصل | ۷۱۷۰ |
| ۸ | ابیاري | ٦۹۵۰ |
| ۹ | روزمزد | ۵۴۳۰ |
| ۱۰ | بسته بندي | ۵۳۲۰ |
| ۱۱ | ترانسپورت | ۳٦۸۰ |
| ۱۲ | کیمیاوي درمل | ۳٦۲۰ |
| ۱۳ | استهلاک | ۴۸۰ |
| | **مجموعي لګښت** | **۱٦۲۴٦۸** |

### ۱.۱.۳ د لویو کروندو د تولید لګښت:

لوې کروندې چې اندازه یې د (۵ جریبه) څخه لوړه ده، په اوسط ډول (۴۴۷۰٦۵) افغانی لګښت ور باندې راغلی دی، چې په لاندې ( ۵ - جدول ) کې په ترتیب سره ښودل سوې دي.

**۵- جدول: د لویو کروندو لګښت په (افغانیو)**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د بزګر ونډه | ۲۲۳۷۸۱ |
| ۲ | ذکات | ٦۷۱۳۴ |
| ۳ | UREA (سپین کود) | ۲۳۲۸۰ |
| ۴ | DAP(تورکود) | ۲۳۰۸۰ |
| ۵ | حیواني سره | ۱۷۲۰۰ |
| ٦ | دځمکې اماده کول | ۱۷۸۰۰ |
| ۷ | روز مزد | ۱٦٦۵۰ |
| ۸ | آبیاري | ۱۴۵۰۰ |
| ۹ | رفع حاصل | ۱۴۵۰۰ |
| ۱۰ | ترانسپورت | ۱۳۰۰۰ |
| ۱۱ | بسته بندي | ۱۰۸۰۰ |
| ۱۲ | کیمیاوي درمل | ۴٦۰۰ |
| ۱۳ | استهلاک | ۷۴۰ |
| | **مجموعي لګښت** | **۴۴۷۰٦۵** |

## ۲. د انارو د تولید ناخالصې او خالصې ګټې:

### ۲.۱ د کوچنیو کروندو ناخالصې او خالصې ګټې:

کوچنۍ کروندې چې په اوسط ډول د (۳-۱) جریبه پورې دی، حاصلات یې په اوسط ډول (۱۰۹۸۵) کیلو ګرامه دي، چې مجموعي عواید یې په اوسط ډول(۲٦۱۰۷۵) افغانی دي چې په نتیجه کې (۱٦۳۳۵۳) افغانی خالص عواید ترلاسه کړې دي (٦ - جدول ).

**٦ – جدول: د کوچنیو کروندو ناخالصې او خالصې ګټې**

| **ټول حاصل (کیلو ګرام)** | **۱۰۹۸۵** |
|---|---|
| ټول عواید (افغانی) | ۲٦۱۰۷۵ |
| ټول لګښت (افغانی) | ۹۷۷۲۲ |
| خالص عواید (افغانی) | ۱٦۳۳۵۳ |
| د ګټې د لګښت تناسب | ۱.٦۷۱ |

### ۲.۲ د میانه کروندو ناخالصې او خالصې ګټې:

میانه کروندګي چې په اوسط ډول د (۳-۵) جریبه پوري دی، حاصلات یې په اوسط ډول (۱٦۴۰۱) کیلو ګرامه دی، چې مجموعی عواید یې په اوسط ډول (۵۰۸۴۰۰) افغانی دي چې په نتیجه کې (۳۴۵۹۳۲) افغانی خالص عواید ترلاسه کړي دي (۷- جدول ).

**۷ – جدول: د میانه کروندو ناخالصي او خالصې ګټې**

| ټول حاصل (کیلو ګرام) | ۱٦۴۰۱ |
|---|---|
| ټول عواید (افغانی) | ۵۰۸۴۰۰ |
| ټول لګښت (افغانی) | ۱٦۲۴٦۸ |
| خالص عواید (افغانی) | ۳۴۵۹۳۲ |
| د ګټې د لګښت تناسب | ۲.۱۲۹ |

**۲.۳ د لویو کروندو ناخالصي او خالصې ګټې:**

لوی کروندګي چې په اوسط ډول د (۵ جریبه) څخه یې اندازه زیاته ده، حاصلات یې په اوسط ډول (۲۴۳۰۴) کیلو ګرامه دي، چې مجموعي عواید یې په اوسط ډول(۹۱۸۴۰۰) افغانی دي چې په نتیجه کې (۴۷۱۳۳۵) افغانی خالص عواید ترلاسه کړي دي (۸- جدول ).

**۸ – جدول: د لویو کروندو ناخالصي او خالصې ګټې**

| ټول حاصل (کیلو ګرام) | ۲۴۳۰۴ |
|---|---|
| ټول عواید (افغانی) | ۹۱۸۴۰۰ |
| ټول لګښت (افغانی) | ۴۴۷۰٦۵ |
| خالص عواید (افغانی) | ۴۷۱۳۳۵ |
| د ګټې د لګښت تناسب | ۱.۰۵۴ |

**۳. د انارو د مارکیټینګ چینلونه:**

د څېړنې په نتیجه کې د مارکیټینګ درې (۳) چینلونه و موندل سول، چې په لاندې شکل کې ښودل سوي دي.




۱

**۱- شکل: د انارو د مارکیټینګ چینلونه**

په لومړي چینل کې تولید کوونکي خپل تولیدات په عمده فروشانو پلوري او عمده فروشان یې په مصرف کوونکو پلوري. د دې چینل د ځواب ورکوونکو شمیر (۱۳) وو چې (۲۲) سلنه جوړوي.

په دوهم چینل کې تولیدکوونکي خپل تولیدات په عمده فروشانو پلوري او عمده فروشان یې بیا پر پرچون فروشانو پلوري او همدا راز پرچون فروشان یې پر مصرف کوونکو پلوري. د دې چینل د ځواب ورکوونکو شمیر (۱۷) وو چې (۲۸) سلنه جوړوي.

په دریم چینل کې تولیدکوونکي خپل تولیدات پر کمېشن کارانو پلوري او دوی یې بیا پر عمده فروشانو پلوري او عمده فورشان یې پر پرچون فروشانو پلوري او پرچون فروشان یې پر مصرف کوونکو پلوري. د دې چینل د ځواب ورکوونکو شمیر (۳۰) وو چې (۵۰) سلنه کیږي (۲- شکل).




**۲- شکل: د انارو د مارکیټینګ چینلونو سلنه**

**۴. د انارو په تولید کې ستونزې:**

د څېړنې او مشاهداتو په نتیجه کې مو تولې هغه ستونزې په نښه کړې دي، چې په هلمند ولایت نوزاد ولسوالۍ کې کروندګر ورسره لاس او ګریوان دي چې له دې امله یې دوی ته ډېر زیات اقتصادي زیان اړولی دی. زموږ د څېړنې او معلوماتو پر بنسټ عمده ستونزې چې کروندګر یې په اړه زیات شکایت کوي د اوبو کموالی (۹۱٪)، د افاتو او امراضو موجودیت (۷٦٪)، د دولت لخوا د کروندګرو سره د همکارۍ نه کول (۷۳٪)، بې کیفیته کیمیاوي درمل (۷۳٪) او داسې نوري ستونزې دي چې په (۱۰ – جدول) کې په ترتیب سره ښودل سوي دي.

**۱۰- جدول: د انارو په تولید کې ستونزې**

| شماره | | د ځواب ورکوونکو شمیر |
|---|---|---|
| ۱ | دافاتو او امراضو موجودیت | ۴۶ (۷۶٪) |
| ۲ | د دولت لخوا دګروندګرو سره د همکارۍ نه شتون | ۴۴ (۷۳٪) |
| ۳ | بې کیفیته کیمیاوي درمل | ۴۴ (۷۳٪) |
| ۴ | دګروندګرو د اقتصادي حالت ضعیف والي | ۲۴ (۴۰٪) |
| ۵ | دضرورت وړ موادو د قیمتونو لوړوالي | ۱۶ (۲۶٪) |
| ٦ | د ځمکې تیزابیت | ۱۶ (۲۶٪) |
| ۷ | دعصري او پرمختللو ماشین الاتو نه شتون | ۱۴ (۲۳٪) |
| ۸ | د ابیارۍ ستونزې | ۵۵ (۹۱٪) |
| ۹ | دګروند ګرو لپاره د عامه پوهاوي نه شتون | ۱۲ (۲۰٪) |

۳- شکل: د انارو په تولید کې ستونزې




## پایله

۱. د څېړنې په نتیجه کې مو دا وموندل چې د کوچنیو، میانه او لوو کروندو د تولید لګښت په ترتیب سره (۹۷۷۲۲)، (۱٦۲۴٦۸) او (۴۴۷۰٦۵) افغانۍ په اوسط ډول دی.

۲. د څېړنې په نتیجه کې مو دا مشاهده کړل چې د کوچنیو، میانه او لویو کروندو ناخالصه ګټه په ترتیب سره (۲٦۱۰۷۵)، (۵۰۸۴۰۰) او (۹۱۸۴۰۰) افغانۍ په اوسط ډول سره ده.

۳. د څېړنې په نتیجه کې مو دا ترلاسه کړل چې د کوچنیو، میانه او لویو کروندو خالصه ګټه په ترتیب سره (۱٦۳۳۵۳)، (۳۴۵۹۳۲) او (۴۷۱۳۳۵) افغانۍ په اوسط ډول په لاس راغلې ده.

۴. د څېړنې په ساحه کې مو درې د مارکیټینګ چینلونه و موندل. (تولید کوونکي، عمده فروش، مصرف کوونکي)، (تولید کوونکي، عمده فروش، پرچون فروش، مصرف کوونکي) او (تولید کوونکي، کمیشن کاران، عمده فروش، پرچون فروش، مصرف کوونکي).

۵. د انارو په تولید کې عمده ستونزې عبارت دي له اوبو کموالی (۹۱٪)، د افاتو او امراضو موجودیت (۷٦٪)، بې کیفیته کیمیاوي درمل (۷۳٪) او د دولت لخوا دګروندګرو سره د همکارۍ نه شتون (۷۳٪).

### اخځلیکونه


Ahmad, A., Baray, S.M., Mujadidi.N., Kakar, M.N., & Ashna, S. (2020). Economics of pomegranate in two Villages (Kariz and Qala E Bost) of Lashkergah District, Helmand, Afghanistan. *International Journal of Advanced Multidisciplinary Research and Studies, 1*(3), 29-30.

Ahmad,. et al. (2017). Integrated farming system for Helmand province, Afghanistan. *International Journal of Advanced Education and Research, 2*(5), 62-67.

Daqiq, M. Hashim. (2021). Analysis of pomegranate value chain in Kandahar province of Afghanistan*: The Lahore journal of economic*, *26*(1), 123-144.

Holland, D. K. Hatip, & Bar, I. akov, Ya. (2009). Pomegranate: Botany, Horticulture and Breeding. *Horticultural Reviews*, *35*(1), 127-191.

Khan, A., &, Shahbaz, A. (2008). Market analysis of fruits and vegetables: A case study in Patna block

Parameshwar, Kumar, D., Rai, AK., Ahmad, A., and Rafi, Baryalai. (2018). Economics of pomegranate in Vijaypur district of Karnataka. *International Journal of Academic Research and Development, 3*(1), 154-157.

Rede, G.D., and Bhuttacharyya, K. (2018). Marketing and Constraints Analysis of Pomegranate in Solapur District of Maharashtra. *Economics Affairs, 63*(1), 99-106.

Sahana, R.T., Vekatamana, M.N., and Anitha, S. (2017). Economic and financial feasibility of pomegranate cultivation in chitradurga District of Karnataka. *International Journal of Agricultural Science and Research, 7*(1), 127-134.

Surajkumar, K., Patel, M., & Pundir, R.S. (2016). An Economic analysis of production of pomegranate in middle Gujrat. *International Journal of Forestry and Crop Improvement, 7*(1), 101-107.

شیرزاد، بازمحمد (۱۳۶۱). *د افغانستان پانړیزی میوی. کابل پوهنتون*، صفحه ۱۸۳ ـ ۲۱۲

of U.P.‖. *the Bihar Journal of Agricultural Marketing. 10* (2). 119-122.

Khun, J.P., Chandra, R., and Rawat, S.K. (2003). Production and marketing of Pomegranate in Shanghai district of Uttar Pradesh. *Agricultural Marketing. 44*(4), 40-44.

Khun, J.P., Chandra, R., and Rawat, S.K. (2003). Production and marketing of Pomegranate in Gograat province of Uttar Pradesh. *Agricultural Marketing. 42*(4), 36-40.

Koujalgi, AA., Bagade, S.R. (2014). Economics of production and marketing of pomegranate in Sindhur District Maharashtra, *Indian J Agric.; 20*(1), 38-45.

Morton, K., Patel, M, & Pundir, R.S. (1987). An Economic analysis of production of pomegranate in middle Gujrat. *International Journal of Forestry and Crop Improvement*, *7*(1), 101-107.

Nagesh, R. (2006). An Economic analysis of Trend in Agricultural Growth and Production in India. *Indian journal of applied research, 4* (2), 120-122.

# An Economic Analysis of Cost of Production, Gross return, net return and marketing channels of Pomegranate in Nowzad District

Zamaryalia Tani[1*], Dr. Ali Ahmad[2] and Hamidullah Hedayat[3]
[1]Teaching Assistant, Department of Genetics, Plant Science Faculty, ANASTU Kandahar. Email: z.tani@anastu.edu.af
[2]Assistant Professor and Head of Research Center, Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Helmand University.
[3]Student, Department of Business Administration, Faculty of Economics, Bost University

## Abstract

The study was conducted entitled ‘‘An Economic Analysis of Production costs, Gross return, net return and marketing channels of Pomegranate’’ in Nowzad District in 1401 year. The main objective of the research is to determine the cost of pomegranate production, to analyze the gross and net income, to find out the marketing channels of pomegranate and to suggest suitable solutions in pomegranate production. Helmand Province and Nowzad District was selected purposively for the study. In this district (Bar Nowzad, Dusang, Mianjoy, Shirin Baz, Kilisiya and Khawi) villages were selected randomly and also (60) people (respondents) were randomly selected in these villages so that they Collect and analyze information related to their land such as cost, yield, income, problems and so on. We have divided their fields into three categories (small 1-3 Jeribs), (medium 3-5 Jeribs) and (larger than 5 Jeribs) and we have selected (20) respondents from each category. As a result of the research, we found that the cost of production of small, medium and large fields is respectively (97722), (162468) and (447065) Afghani on average. The average gross profit of small, medium and large farms is (261075), (508400) and (918400) Afghani respectively. The net profit of small, medium and large farms is (163353), (345932) and (471335) Afghani respectively. We found three marketing channels. (Producer, Wholesaler, Consumer), (Producer, Wholesaler, Retailer, Consumer) and (Producer, Commission Worker, Wholesaler, Retailer, Consumer).

**Keywords:** Pomegranate, cost of production, gross return, net return, marketing channels and problems.

# BOST

Academic & Research National Journal


| Valume | Issue | Year |
| --- | --- | --- |
| 2 | 1 | 2023 |